Vol. 4 No.4 2021
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

# د علي خېل درياب په شاعرۍ کښې د انکشاف ذات مباحث: يوه تجزياتي څېړنه

**Poetry s'Daryab khel Ali .Dr in disclosure -self of discourses the of review exploratory An**

**لیلیٰ گل**

ایم فل ریسرچ سکالر، شعبہ پشتو یونیورسٹی آف ملاکنڈ

**ڈاکٹر بادشاہ روم**

ایسوسی ایٹ پروفیسر، شعبہ پشتو یونیورسٹی آف ملاکنڈ

**Laila Gul**

M.Phil Research Scholar at Pashto Department University of Malakand
**Dr. Badsha-i-Rome**
Associate Professor at Pashto Department University of Malakand

**Abstract:**

Dr. Ali khel Daryab is an emerging voice in Pashto poetry, known for introducing modern trends that challenge traditional poetic norms. One of the most striking features of his work is the tendency of self-disclosure, a bold approach rarely explored by earlier poets due to societal pressures and cultural restraints. Unlike his predecessors, who often avoided such openness, Ali khel Daryab exhibits a daring disregard for societal expectations, fearlessly expressing him without concern for external judgment. His poetry represents an evolution in Pashto literature, where personal expression and modern thought intersect. This article critically examines this aspect of Ali's poetry, offering insights into his unique style and its significance in contemporary Pashto literary discourse. Understanding this facet of his work not only highlights the evolution of Pashto poetry but also provides a deeper comprehension of Ali's contribution to its modern transformation.

Keywords: Dr. Ali khel Daryab, Pashto, Poetry, Unique , Style ,Tendency, self-disclosure, Modern, Transformation

شعر د يو شاعر د معروضي اوموضوعي جذباتو هينداره وي . معروضي حالات د هغه ټولنې يا چاپېرچل سره تړلې شوي وي په کوم کښې چې شاعر ژوند کوي او نزدې نزدې هر څوک ترې خبر وي ولې تر کومې چې د موضوعي حالاتو اړيکه ده ، نو دغه د شاعر د داخل سره تعلق لري او يوازې هغه ترې اګاه وي . خوکه شاعر ئې اظهار وکړي نوبيا ترې خلق خبر شي . دغې ته انکشاف ذات يا اظهار ذات وئيلې شي . چې په نورو ټکو کښې ورته ځان برڅېرنه وائي . دغه ځان برڅېرنه اکثر په شعوري توګه کولې شي .ولې کله کله په غېر شعوري ډول هم وشي . يو ليکوال د انکشاف ذات په حقله وائي .

Vol. 4 No.4 2021
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

**Connection happens through sharing personal information with each other. This is called"self-disclosure"[1]**

ژباړه :ترون یاتړاؤ د یوبل سره د ذاتي معلوماتو د شریکولو په نتیجه کښې مخې ته راځي . دې ته ځان برخېرنه وئیلې شي .

په ځان برخېرنه کښې هغه معلومات رادوڅارېږي ، کوم چې ذاتي وي او دغه کس غواړي چې زما متعلق دې ددغه خبرو نه مخاطب خبر شي . د یوې ویب پاڼې د لیکنې ترمخه

**Self-disclosure is the process through which people deliberately reveal personal information to others".[2]**

ژباړه: ځان برخېرنه هغه عمل دے . د څه په ذریعه چې خلق قصدا" خپل ذاتي معلومات نورو ته څرګندوي .

دغه شان ددې لاندې بیان نه دا خبره جوتېږي چې د ځان برخېرنې یو لوے مقصد مطلوب انسان ته د ځان نزدې کولو وي ، چې طالب پکښې د خپلو ډېرو اړخونو نه پرده پورته کوي او غواړي چې ددغه کس باور ترلاسه کړي . خو دلته د ځان برخېرنې معامله یوه اړخیزه وي . لیکي

**Self-disclosure, the sharing of private thoughts, dreams, beliefs, and emotionally meaningful experiences, is often viewed as synonymous with intimacy. However, self-disclosure is only half of the process; the other half is partner responsiveness.[3]**

ژباړه : ځان برخېرنه ، د خپلو ذاتي خیالاتو، خوبونو،عقیدو او په جذباتي توګه دمعني' خېزو تجرباتوشریکول . چې عموما" د نزدیکت مترادف ګڼلې شي . بیاهم ځان برخېرنه ددې عمل نیمه ده .نیمه ئې دشریکوال په ردعمل اړه لري .

تردې دمه پوهان د انکشاف ذات په حقله درې نظریات مهم ګڼی کوم چې دا لاندیني دي .

**"The theories are: Communication Privacy Management (CPM), Social Penetration Theory (SPT), Social Exchange Theory (SET) and the Johari Window Pane model. The study can conclude that all the three theories and the model converge on many aspects of explaining the development of human relationship".[4]**

د ځان برخېرنې عمومي نظریات درې دي . کمیونیکېشن پرائیویسي مینجمنټ (CPM) سوشل پینټیشن تیوري (SPT) ،سوشل ایکسچېنج تیوري (SET)، او جوهري ونډوپین ماډل ، ددې درې واړو نظریاتو نه د بنیادم د تعلقاتو د ترقۍ یوشمیر اړخونه رابرڅېره کېږي

ددې بره وینا ګانو نه مونږ په دې نتیجه رسو چې دځان برخېرنې عمل د تولنیزتعلقاتو په وده کښې مهم کردار لوبوي . چې د بېلابېلو رشتو د اهدافو په ترلاسه کولو کښې ډېر په بنه راتلې شي .

Vol. 4 No.4 2021

ISSN Online: 2709-7625

ISSN Print: 2709-7615

په نننۍ دور کښې خلق د ځان برخېرنې دپاره د انټرنټ لاره اختیاروي . په دغه حواله که زیاتره خلق خپل ځان هغسې نه برخېره کوي څنګه چې هغوي وي ، خو پوهه وګړي ددغه خلقو د داخل لوستو دپاره د هغوي د فېس بک پاڼې لټوي ، چرته چې د هغوي د کلونو د هلوځلو ، پوستونه ، انځورونه او نورو خلقو د رایو د رایو او خیالاتو د اظهار مواد خوندي وي . دغسې ددغه متعلقه خلقو د انکشاف ذات غوټې راسپړدې کېږي . ددې نه علاوه " د اروایوهانو په نزد د ځان برخېرنې عمل د ناروغیو د درملنې په کار کښې ډېر ګټور ثابتېدې شي"[5]

درومانوي تعلقاتو په ترڅ کښې هم د ځان برخېرنې عمل ډېر اهمیت لري. په ابتدا کښې دوه کسان د یوبل په حقله ډېر څه وپېژني . هغه څه چې دوي ترې مخکښې خبر نه وو. او بیا هم ددغې خبرتیا په بنیاد ټاټیکل جوړېږي او د یو بل د خپلولو یا رد کولو پرېکړه مخې ته راځي .

د ځان برخېرنې په کار کښې ارتباط یو اهم توکے دے . څومره چې رابطه زیاته وي دومره به دغه انکشاف زیات وي . مطلب دا دواړه لازم ملزوم دي .[6]

دلته داخبره د یادونې وړ ده چې د ژوند په ډېرو شعبو کښې د انکشاف ذات رویې شتون لري او د افادیت نه خالي نه دي . د ادب په څانګه کښې هم ادیبان شاعران په نظم او نثر دواړو کښې ځانونه راسپړي . او دغسې شعر وادب ته دوام بخښې . دا سلسله د هرې ژبې په ادبیاتو کښې بیاموندې شي . د پښتوژبې په شاعرۍ کښې هم هر شاعر خپل داخلي جذبات او قلبي واردات په ډېره زړورتیا بیان کړې دي .ځکه خوئیلې شي چې شاعري د یو شاعر د ژوند هنداره او عکاس وي۔ شاعري که یو خوا د خوند، مزې او قلبي احساساتو او جذباتو د رالېږزولو یوه مهمه آله ده نو بل خوا هر شاعر په شعوري او غېر شعوري دواړه توګه دا هڅه او کوشش هم کوي چې هغه د خپل چاپېرچل کلهمه ستونزې او کشالې د خپل کلام په ژبه د اصلاح په غرض بیان کړي، د معاشرې هر وګړے د ناوړه عادتونو او خویونو نه پاک کړي او د معاشرې یو سودمند وګړے ترې جوړ کړي۔ د دې نه سربېره شاعري د شاعر د خپل ژوند، ذات، احساساتو او جذباتو په اړه یو خودنوشت هم وي۔ یعني که مونږ د یو شاعر د ژوند یا ذات په اړه هر څنګه معلوماتو ته اړتیا لرو نو د هغې دپاره تر ټولو مستنده لار د هغه د کلام لاره ده کومه چې مونږ ته د هغه د ذات په اړه بلا شک و شعبې او مستند معلومات راکولې شي۔ ځکه خو که مونږ د نړۍ د نورو ادبیاتو سره سره د پښتو تحقیقي ادب ته نظر اوکړو نو په دې کښې تقریبًا د هر شاعر د ژوند او ذات په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو مستنده منبع او سرچینه د هغه کلام دے۔ دا رنګ شاعر د خپل ذات په اړه په خپل کلام کښې هغه څه هم بیانوي څه چې د نورو نه پټ وي، پناه وي او د نورو د دسترس نه بهر وي او فقط د ده د کلام سنجولو سره ترې نور خلق خبرېدې شي۔ دا د یو شاعر داسې عمل دے چې هغه پکښې د منافقت نه ډډه کوي او د حقیقت پسندۍ پکښې کار اخلي او په دغه لړ کښې هغه په خپل ځان هم پرده نه راچوي بلکې څه چې د هغه د ذات او ژوند حقیقت وي هم هغه بې ویرې تراهې په خپل کلام کښې رانغاړي۔ یعني مونږ داسې وئیلې شو چې د یو شاعر کلام د هغه د ژوند، ذات، احساساتو، جذباتو او خوئ خصلت یو داسې انځور وي چې لوستونکې یې لېدې، کتې او محسوسولې هم شي او د هغه د شخصیت په اړه یوه کوټلې رائے هم قایمولې شي۔په دغه شاعرانو کښې یوه ستره نامه د علي خېل دریاب هم ده چې د ملاکنډ ضلعې په ادب خېزه او تاریخي سیمه کښې ژوند کوي او هم هلته دا محال په ملاکنډ پوهنتون کښې د پښتو څانګې د چېئرمېن په کرسۍ خپله ذمه واري په انتهائي احسنه او مخلصه طریقه ترسره کوي۔ د دې سره سره دریاب د پښتو شعري، نثري او تحقیقي ادب یو اعلي تعلیم یافته او لوستې لیکوال او پوهاند هم دے۔ چې تر دې دمه یې ګڼ شمېر ادبي اثار د چاپ د مرحلو نه تېر شوي دي او دغه سلسله یې لا دوام لري۔ په دغه اثارو کښې د هغه د شاعرۍ اووه ټولګې هم شاملې دي چې د پښتو شعري ادب پنګه پرې د معیار او مقدار دواړو له رویه ښه درنه او سینګار شوي ده۔ دریاب د شاعرۍ په فن ښه لاس برے لري۔ په شاعرۍ کښې یې تقریبًا په هر صنف او هره موضوع خپله طبع ښه په بهترین انداز کښې ازمائیلې ده۔ د دې هر څه نه سربېره هغه لکه د خپل تخلص " دریاب " په شان د لوئې، مخلص، درد مند زړه او شخصیت څښتن هم دے۔ د هغه د شخصیت او ذات په اړه د هغه په کلام کښې هغه څه هم موندې شي د کومو نه چې نور خلق خبر وي او هغه څه هم د کومو نه چې څوک نه وي خبر۔ د خپل ذات، فکري ټرون، احساساتو او جذباتو په واز کومې بیانولو کښې هغه د هېڅ وېرې ترهې پرواه نه ده کړې

Vol. 4 No.4 2021
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

څه چي حقيقت وي هغه يې بيان کړے، ځکه چې هغه په حقيقت پسندی پوخ يقين ساتي او منافقت نه کرکه او ډډه کوي۔ دلته هم په دغه اړه د علي خېل درياب د کلام په سنجولو سره دا هڅه کوؤم چې د هغه د ذات هغه اړخونه رابرسېره کړم کوم چې د هغه په کلام کښې خوندي دي خو نور خلق ترې لا تر دې دمه خبر نه دي او لکه بکره د هغه د کلام پلو کښې پټ پراته دي۔

**خوداري:**

خوداري د انسان يو داسي صفت دے چې هغه بل چا ته د محتاجۍ نه او د سرکوزۍ نه په ډډه ساتي۔ خپل هر کار په خپله کول او حد تر وسه دا کوشش کول چې په بل چا ملا اونه تړلې شي، خوداري بللې شي۔

د درياب په کلام کښې ځاۓ پر ځاۓ مونږ ته د هغه د شخصيت په اړه د خوداری يادونه په نظر راځي۔ خوداري د درياب د ذات يوه داسي برخه ده چې هغه يې په هيڅ حال کښې له لاسه نه ورکوي۔ ځکه چې خوداري هغه د ژوند برخه نه بلکې پوره ژوند ګڼي۔ لکه وائي:

"کــه د حــالاتو جبــر ډيــر يــم پــه نيستــی زېلـــے
پښـتو در ځـار شـم د خـودی نــه لا پرېـوتـے نــه يـم"[7]

"يــــا پــــه لتــــه ژونـــــد وهـــــل دي
يـــــــا خـــــــــوداره زنـــــــــدګي ده"[8]

"مـا پښـتني اقـدار پـه مينـه کښـي هـم لـوړ سـاتلي
مـا هميشـه ژونـدی سـاتلي د خـودی جذبـه ده"[9]

"زمـا پـه ښـو کښـي شـرنګېدلي زولنـی د خـودی
چـا د نـواب تمبـه وهلـه چـا بـه خـان لتـوۀ"[10]

د سـرکوزی نـه خـداے سـاتلے يـم تـر دې پـورې چـې
سـلام مـې چرتـه پـه اختـر کښـي د خـان نـه دے کـړے"[11]

**عاجزي او انکساري:**

د عاجزی او انکساری صفت هم د درياب په ذات او طبيعت کښي بې دربغه شتون لري۔ سره د دې چې هغه له الله ډېر لوړ مقام او حېثيت ورکړے دے، په لويه ځوکی په اوچت "ګربډ" سره فائز دے خو بيا هم هغه د عاجزی او انکساری لمن کلکه نيولې ده او خپل دغه خصلت او خاصيت د خپل لوړ مقام ترلاسه کولو په ذريعو کښي يوه لويه ذريعه او خپل ازلي فطرت ګڼي۔ د درياب دغه خاصيت د هغه په کلام کښي ځاۓ پر ځاۓ څرګند دے چې په واز کومي د هغه په عاجز طبيعتی دلالت کوي۔ لکه چې وائي:

"فطـرت کښـي مـې څـه ډېـره عــاجزي ده انکسـار
پــه برخــه مــې دے دغــه امتيــاز د زنــدګی"[12]

Vol. 4 No.4 2021
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

مـا د ازل نـه پـه فطـرت کښې عـاجزي راوړي
تـه وايـه بيـا د فقيـرۍ نـه بـه مې څـوک اړوي"[13]

"سـتا پـه دريـاب کښې د جـونګړو عـاجزي وه يـاره
ځـان د زردارو د محـل نـه ځنې لـري سـاتي"[14]

"د انکسـار وظيغې ماتـه ولايـت راکـړي
هـم کرامـت يې د سـپيځلي محبـت راکـړي"[15]

"ګـوره چې نمـر نـه شي نـو هلـه وايـه
تـه خـو دې ځـان اول زره کـړه کنـه"[16]

**آمن خوښي:**

آمن و آمان د انساني ژوند يو داسې مهم توکے دے چې په دې سره د نړۍ زيست روزګار، ترقي، سکون او خوشحالي باهم تړلي شوي دي۔ که چرې په يو ځاۓ کښې آمن نه وي، بدآمني او افراتفري وي نو هلته خلق په ترقۍ، سکون او خوشحالۍ پسې ړانده وي، په ژوند کولو تنګ او ستومانه وي او هغه معاشره په هر لحاظ د جمود ښکار وي۔

علي خېل درياب هم په آمن ورک مئين دے۔ په قول او فعل دواړو کښې د آمن داعي او مبلغ دے۔ په خپل کلام کښې يې د آمن داسې صفات بيانوي لکه يو محبوب چې د خپلې محبوبې صفتونه او تعريفونه کوي۔ او هم دغه عمل د هغه په آمن خوښي طبيعت او شخصيت په ښکاره ډول ګواهي کوي۔ لکه وائي:

"دريابـه سـر مې دے د آمـن نـه ځـار
خـو د جګـړې خبـرې مـه يـادوه"[17]

"زه هغـه تـه بـس پسـخېږمه دريابـه
چې د چـا نـه د سـکون خبـرې اورم"[18]

"تـړلے جنـګ دے خـو زه يمـه د فطـرت مجبـوره
مـا لـه پـه غـره کښې هـم پـه لاس باندې کمـر نـه راځي"[19]

"نيـت مې ورانې تـه پـه يـو رګ کښې نشـته
ځکـه پـه ورانـو بانـدې مـلا نـه تـړم"[20]

"مـا تـه کـه څـوک متې رانغـاړي کـه پټـون ټپـوي
زه پکښې نـه يـم ګـورې مـا لـه چـل د شـر نـه راځي"[21]

Vol. 4 No.4 2021

ISSN Online: 2709-7625

ISSN Print: 2709-7615

"د دریـــــــــــابونو خاموشـــــــــــــي خاصـــــــــــه ده
کړنـــــــګ دے زمــــا د شــــــر و شــــوره یـــــاره"[22]

**یاري دوستي:**

یاري دوستي هم د دریاب د شخصیت یو لوئے، ښکاره او اهم جُز دے او د هغه ذات د دې جز په کالو ښه سېنګار او ښائسته دے۔ د هغه د کلام په سنجولو سره دا خبره ښه په ښکاره ډول جوتیږي چې یواځې د هغه تخلص دریاب نه دے بلکې د یارانو او دوستانو دپاره د هغه زړه هم دریاب دے۔ هغه په یارۍ دوستۍ کښې تر اخري حده تلو باندې یقین او عقیده ساتي او په دغه لړ کښې هغه په سر و مال، سود او زیان باندې هم سرفه او اله نه کوي۔ لکه وائي:

"چــــي پـــه یـــارانو بانـــدې ســـر مــــاتوي
دریـــاب پـــه دغـــه اســـاس نـــر دے یـــاره"[23]

"مـــونږ پـــه خـــدائے کـــه ورتـــه بـــره دي کتلـــي
کـــه نیـــولي چـــا یـــارۍ کښـــي د مـــرۍ یـــو"[24]

"لا مـــي پـــه روح دي راخـــواره یـــوه نـــرۍ مخونـــه،
زه خـــو د ښـــکلو د یـــارۍ نـــه لا پرېـــوتے نـــه یـــم"[25]

**حق ګوئي:**

حق او رښتیا خبره کول د دریاب د فطرت خاصه ده. هغه په هر حال کښې د حق ملګرتیا ته چمتو ولاړ دے۔ او په دغه لړ کښې هغه هغه خبرې هم کوي د کومو د کولو چې نور خلق جرات هم نه شي کولې او د کومو نه چې نور خلق د ځه ویرې ترهې له وجې ډېه کوي او یا ترې ګام اړوي۔ څه چې حق وي رښتیا وي که ډېر تراخه ولې نه وي دریاب یې په جار وائي ځکه چې هغه ځان صرف د خپل ضمیر غلام ګڼي او د هغه ژوندے او ویخ ضمیر هغه ته هم دغه د حق ګوئۍ درس ورکوي ۔ لکه وائي:

"مـــا تـــل هغـــه خبـــره کـــړي ده پـــه ډانـــګ پیئلـــي
چـــا چـــي پـــه ګـــوټ کښـــي هـــم هغـــه خبـــره نـــه کولـــه"[26]

"پـــه هیچـــا یـــي نـــه راتـــړي پـــه یـــو حـــال کښـــي،
ســـتا دریـــاب ګـــورې د خپـــل ضـــمیر غـــلام دے"[27]

"هغـــــه تـــــه مـــــا خپلـــــه غلطـــــي ښـــــودله
هغـــــه زمـــــا نـــــه مـــــرور دے یـــــاره"[28] ۲۸

ISSN Online: 2709-7625

ISSN Print: 2709-7615

"ویخ وي دریابه همېشه ځکه چې
ځان مې ضمیر بېخي په شور کښې ساتي"[29]

"زما ضمیر چا ته سجده اونه کړه
ګني حالاتو په ما څه اونه کړه"[30]

**محسن:**

احسان او ښېګړه کول هم د دریاب د مزاج یوه لویه خاصه ده۔ د هغه د کلام د مطالعې نه معلومېږي چې هغه د بلها خلقو سره په هره حواله ښېګړې او احسانات کړي دي سره د دې چې هغه د چا سره هم ښه کړي دي هغو د ښه په پرتله د هغه سره بدو ته متې رانغښتې دي او هغه یې په خپل دغه پرخلوص او سپېڅلې عمل د حد په هورته سوخت او ستومانه کړے دے۔ علي خېل دریاب په خپل کلام کښې ځائے پر ځائے د دغه رنګې احسان فراموشو خلقو نه لاس په تندي دے او وائي:

"ډېر نا اهله مې ډېر زیات دي قدرولې
خپلې دې لوئې خامۍ ته سوچ کښې لاړم"[31]

"هغه ما چې ورته پلونه دي جوړ کړي
هغوي ما ته پښو کښې ولونه دي جوړ کړي"[32]

"ما وې چې ما ګنې سړو ته لاره جوړه کړله
زه څه خبر ووم چې ما سپو ته لاره جوړه کړله"[33]

"زما د ډېرو ښو دې څه ښکلي بدله راکړله
لاس کښې دې سترګې او څپېړه دې په خله راکړله"[34]

"دریابه ما چې تل د چا سره نېکي کړي ده
هغه سړي په بدله کښې اذیت راکړے"[35]

"هغه ما چې ورته پلونه وو جوړ کړي
نن هغه زما په لاره کښې دېوال شو
ډېر کسان مې له ایرو نه په تخت کړي
نن مې هسې خپلې دې خطا ته خیال شو"[36]

**مذهبي تړون:**

علي خېل دریاب په مذهبي لحاظ سره د تصوف د سپېڅلې لار هم قائل او منونکے دے ځکه چې تصوف د نفس د تزکیې او د یو مرتب اخلاقي نظام دوېم نوم دے او د دې بنیاد په باطني علم ولاړ وي۔ دا رنګ دریاب د پیر او مرشد د مهم کردار نه هم ښه خبر دے۔ ځکه چې د تصوف عمل یو داسې عمل دے چې دا د یو مرشد یا پیر نه بغېر ناشوني دے او

Vol. 4 No.4 2021
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

که چرې د پیر نه بغېر یې څوک ترسره کوي هم نو هغه به پکښې اورمرو تېر خوري او بې لارې کېږي به. د دې وجې نه دریاب د داسې پیر په انتخاب زور ورکوي کوم چې قولاً عملً یو مکمل پاک او سپېځلے شخصیت لري او په قول او فعل کښې یې تضاد نه وي. لکه چې وائي:

"دریابــه کېفیـت پــه یـو کښــې هــم نـــه ؤ د حـــال
پیـــران زمـــا د دور خـــو د قـــال نـــه تاوېـدل"[37]

"د هغـــه پیـــر ســـره خـــو مـــا بلهـــا عمرونـــه ویســـتي
د هغـــه پیـــر ســـره د حـــال خبـــره نـــه جوړېـــده"[38]

د دریاب د کلام د سنجولو نه معلومېږي چې هغه د خپل نفس د تزکیې او اخلاقي روزنې دپاره د تصوف لار تر ټولو غوره او مهمه ګڼي او د دې دپاره هغه د کامل پیر په لټه کښې کامیاب شوے دے. د هغه په یو ناچاپ شعري اثر کښې په دغه حواله یوه اوږده مرثیه هم شتون لري کومه چې هغه د خپل هغه روحاني لاربنود په رحلت لیکلې ده چې نامه یې حضرت پیر غلام محمد المعروف (باغ کندی باباجي) ؤ کوم چې د ضلع کوز دیر د باغ کندی نومي کلي یو نامتو او سپېځلے روحاني شخصیت ؤ چې په لکونو مریدان او عقیدت مند یې لرل. دا نوموړے شخصیت په کال ۲۰۲۲ء کښې د ددې فاني دنیا نه رحلت کړے دے. دریاب د ده د رحلت کال د " غم غیزه" په لفظونو کښې د ابجدو په حساب په دغه مرثیه کښې محفوظ کړے دے.

د دریاب د عقیدت او درد نه ډکې دې مرثیې سره دا خبره په لوستونکو لکه د نمر عیان شوه چې هغه د حضرت پیر غلام محمد نه لاس نیوه او بیعت کړے دے، د هغه په مرید کېدو ویاړ او فخر کوي او د هغه د علمیت او روحانیت د زړه له کومې معترف او منونکے دے. د علم و فن، سوز و ګداز او درد و غم نه ډکه دغه مرثیه په پوره ډول څه داسې ده،

"نـــن صـــاحب د شـــریعت او طریقـــت لاړ
ګویـــا ګـــور ســـپورے زمـــونږ نـــه د رحمـــت لا
د اســـــرارو د رازونـــــو خزانـــــه وه
بـــې نـــوا خـــالي لاســـونه شـــو دولـــت لاړ
د عرفـــــان پـــــه رڼاګـــــانومنوَر ؤ
ســـتر رهبـــر او رهنمـــا د معرفـــت لاړ
یـــوه هســـتي د ښائســـتونو پُرشـــکوه وه
د جمـــال او د جـــلال نـــه عبـــارت لاړ
یـــو عاشـــق دَ مـــدني جانـــان رینبـــتونے
یـــو پتنـــګ ســـوے پـــه شـــمع رســـالت لاړ
پـــه ریښـــتیا د لـــدُني علـــم دریـــاب ؤ
دســـلوک یـــو پـــوره دور دعظمـــت لاړ
هـــم عـــالم ؤهـــم صـــوفي ؤ هـــم ولـــي ؤ
د فـــاني دیـــار پیکـــر د شـــرافت لاړ
اســـتانه ئـــې دســـکون دارام غېـــږ وه
ســـالکانو نـــه خـــو څکـــه جمیعـــت لاړ
فـــېض ئـــې خـــور د تصـــوف یـــوه پیـــړۍ کـــړو
نمـــر د کشـــف د الهـــام د کرامـــت لاړ
رســـېدلے پـــه رمـــوز د کائینـــات ؤ

Vol. 4 No.4 2021

ISSN Online: 2709-7625

ISSN Print: 2709-7615

هئ افسوس خاوند دفهم و فراست لاړ
دتقويٰ پرهېز ګارئ مجسمه وه
مجاهد دذکر و فکر رياضت لاړ
چې ښاغلے ؤ، سپېڅلے ، نازولے
تورو خاؤرو له ښتن د حېثيت لاړ
يو خوداره باکرداره قلندر ؤ
په سرير د استغناء د جلالت لاړ
برکات چې ئې خواره وو په هر لورې
نن زمونږ نه هغه بر او برکت لاړ
د روحونو تزکيه چې پرې کېدله
دباطن دتطهيرونو علامت لاړ
خلقې په دسترخوان ئې مړېدلې
مېلمه دوسته نوميالے دسخاوت لاړ
چې بې لارې راويستل به ئې په لاره
کاش زمونږ هغه امام د تربيت لاړ
په لکونو ئې رنګ شوي په دعُا دي
ستر محسن ددې صدئ د ادميت لاړ
مقامات تر سکونت ئې وو سر کړي
بې مثاله شهسوار د ولايت لاړ
که ئې ژوند د فقيرئ او ملنګئ ؤ
خو چې تلو په شاهانه شان او شوکت لاړ
نورو خلقو له معدن د احترام ؤ
ځکه ډېر په درناوي او په عزت لاړ
د دنيا نه ئې پرده وکړه عقبا ته
سپين سپېڅلے روح په لوري د جنت لاړ
هغه شاه دبزرګانو د صوفيانو
په رضا د الٰهي او مَشِيّت لاړ
چې د خپل عصر کره پيرِ کامل ؤ
هغه پير د بصيرت او بصارت لاړ
ده حلقه د ارادت ئې په لکونو
په اردل کښې د بې کچه عقيدت لاړ
هر سړي پسې ګرېوان په اوښکو لوند کړو
يو سړے جوګه د هررنګه صفت لاړ
سرو غرمو د ژوند پاتي شو په ډاګه
سائيبان د محبت اود شفقت لاړ
هر يو سيرې سترګې نيولې پسې ژاړي
چې مخدوم د خادمانو د خدمت لاړ
غم غميزه نه چې دوه ځله " م "کم کړے[1]

[1](غم غيزه د ابجد په حساب ترې ۲۱۰۲ راځي خوچې دوه ځله ترې د " م" قېمت ۸۰ لرې کړے نو ۲۱۰۲-۸۰=
۲۰۲۲ به ترې حاصل شي ، کوم چې د باباجي رح د وفات کال دے).

Vol. 4 No.4 2021
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

بابا جي په دغه کال وکړو رحلت لاړ
چې غلام دمحمدٌ مرشد ئي لاړو
ددریاب د زندگی نه حلاوت لاړ"[39]

د علي خېل دریاب د ذات او شخصیت په اړه د هغه د کلام په سنجولو سره دا معلومه شوه چې هغه د یو " آئیډیل" ژوند د نورو خوبو سره د یو خوداره، عاجز طبیعته، آمن خوښے، یارباش، حق پرست، محسن، په مذهب مئین او د تصوف د لارې معتقد شخصیت ښتن دے۔ هغه د پښتونولی او اسلامي روایاتو د پالني سره د انسانیت د اوصولو هم کلک پلوي او پیروکار دے چې د هغه ژوند او قلم دواړو ته یې ښکلا بخښلي ده او دغه سلسله لا دوام لري۔

حواله جات: (References)

[1] https://medium.com/true-self-or-no-self/self-disclosure
[2] https://www.sciencedirect.com/topics/psychology/self-disclosure
[3] https://www.google.com/search?client=firefox-b-e&q=Self-disclosure++in+Encyclpedia+Britannica
[4] https://socialworktestprep.com/blog/2024/may/30/self-disclosure-principles-and-appl
[5] https://dictionary.apa.org/self-disclosure
[6] B. Rimé, in Encyclopedia of Mental Health (Third Edition), 2016
[7] علي خېل دریاب، ډاکټر، د رڼاګانو سنګسار، خپرونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) اماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۴۹
[8] علي خېل دریاب، ډاکټر، بهیر د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ، د چاپ کال نه لري، مخ: ۳۹
[9] علي خېل دریاب، ډاکټر، د رنګونو لیپي، چاپونکي: ګران خپرندویه ټولنه، کال: ۲۰۲۴ء، مخ: ۳۲
[10] هم دغه اثر، مخ:
[11] علي خېل دریاب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) اماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۲۹
[12] علي خېل دریاب، ډاکټر، د رنګونو لیپي، چاپونکي: ګران خپرندویه ټولنه، کال: ۲۰۲۴ء، مخ: ۱۴۴
[13] علي خېل دریاب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) اماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۸۰
[14] هم دغه اثر، مخ: ۱۷۰
[15] علي خېل دریاب، ډاکټر، سندریز الهام، دوېم چاپ، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) اماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ: ٦۴
[16] علي خېل دریاب، ډاکټر، بهیر د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره ملاکنډ، د چاپ کال نه لري، مخ: ۷۸
[17] هم دغه اثر، مخ: ۵۲
[18] علي خېل دریاب، ډاکټر، د رڼاګانو سنګسار، خپرونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) اماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۴۵
[19] علي خېل دریاب، ډاکټر، سندریز الهام، دوېم چاپ، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) اماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ: ٦٦
[20] هم دغه اثر، مخ: ۸۴
[21] هم دغه اثر: مخ: ٦٦

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

[22]هم دغه اثر، مخ: ۱۷۹
[23]علي خېل درياب، ډاکټر، د رڼاګانو سنګسار، څېړونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) امانده ملاکنډ، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۷٦
[24]علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، څورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) امانده ملاکنډ، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۷۲
[25]علي خېل درياب، ډاکټر، د رڼاګانو سنګسار، څېړونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) امانده ملاکنډ، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۴۹
[26]علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، څورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) امانده ملاکنډ، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۱۰۰
[27]هم دغه اثر، مخ: ۱۰۹
[28]علي خېل درياب، ډاکټر، د رڼاګانو سنګسار، څېړونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) امانده ملاکنډ، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۷۵
[29]هم دغه اثر، مخ: ۱۲٦
[30]علي خېل درياب، ډاکټر، بهير د جمال، څورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده ملاکنډ، د چاپ کال نه لري، مخ: ۹٦
[31]علي خېل درياب، ډاکټر، د رڼاګانو سنګسار، څېړونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) امانده ملاکنډ، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۱۲۲
[32]علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، څورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) امانده ملاکنډ، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۱۳٦
[33]هم دغه اثر، مخ: ۱۴۹
[34]هم دغه اثر، مخ: ۱۵۴
[35]علي خېل درياب، ډاکټر، سندريز الهام، دوېم چاپ، څورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) امانده ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ: ٦۵
[36]هم دغه اثر، مخ: ۱۷۵
[37]علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، څورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه(رجسټرډ) امانده ملاکنډ، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۵۴
[38]هم دغه اثر، مخ: ۸۵
[39]د باباجي رحلت د رنګ و بو د دنيا نه د پردې کولو په اوان- (مرثيه)، قلمي نسخه